ع.ا.عزیزی ۲۰/ ۱۱/ ۲۰۱٦

# د ماشومانو نړۍ واله ورځ

وايي کومه ورځ چې په نړۍ کې د ماشومانو ورځ لمانځليده ، نو د ځنګل اوسيدونکو ژوو ( رعيت ) تصميم ونيوه چې خپل پاچا ( زمری ) هم دماشومانو دخوشحالي په خاطرداسي يوه نيک کار ته ولمسوي . هغه ول چې ګيدړه يې توظيف کړه ترڅو ولاړه سي او پاچاته د هغه درعيت عرض تقديم او هوکړه ( OK ) يې ترلاسه کړي .

پاچاچې د ګيدړي په وکالت د رعيت عرض واورید ، نويې تصميم ونيو ترڅو پخپله هم په دي خوشحالي کي له رعيت سره يوځاي ګډون وکړي . نو هغه ول چي ګيدړي ته يې دنده وسپارله تر څو رعيت دپاچا له دي پريکړي نه خبر او د پاچا د دربار ميدان ته يې راغونډ کړي .

ګيدړي دپاچا امر تطبيق او رعيت يې په ټاکلي ميدان کي دپاچا حضورته راغونډ کړ .پاچا پس له يوي لنډي وينا چې د ماشوم دنړۍ والي ورځي دتجليل په هکله يې وکړه نو يې د دربار چوپړ والو ( خدمو ) ته امر وکړ تر څو دماشوم دورځي دتجليل په خاطر د دربار دميدان په سرکي يو تخت سينګار او د ماشوم د کشيناستو په خاطريې په يوه درباري څوکۍ سنبال کړي .

اوس نو چې د ماشوم د لمانځني دورځي ټول شرايط اماده شول نو پاچا ځيرګی ( خارپشت ) ته درعيت په نمايندګي وظيفه ور وسپارله تر څو ولاړسي او د رعيت د ما شومانو له ډلي نه يو داسي ګلالی ،پستکی او په قد او قامت برابر ماشوم انتخاب او دلته راولي چي موږ يې بيا د ټولو ماشومانو په وکالت د سينګار شوي تخت پر درباري څوکۍ کشينوو او په غاړه کي يې دګلانو اميلونه ور واچوو.

ځيرګی د پاچا له امر سره سم په هغه لوري روان شو چيرته سي د دربار په ميدان کي ماشومانو ته بيل شوی او ماشومان پکشي راغونډ شوي ول .

او س نو ځيرګي بايد دپاچا له امره سره سم دماشومانو له منځه داسي يو ماشوم غوره کړی واي ، کوم چې دپاچا غوښتنه وه يعني يو ګلالی ، پستکی او په قد او قامت برابر ماشوم .

ځيرکي د داسي يوه ماشوم د پيداکولو په خاطر ډيره هڅه وکړه او ماشومان يې ټول سره لټ په لټ او هريو به يې تر خپل نظره تيراوه ، ترڅوچې سترګي يې ( د ده په نظر) په داسي ماشوم ولګيدي چه کولاي يې شول د پاچا ټولي غوښتني پوره کړي او دا ماشوم د ځيرګي زوي وه .

داده ځيرګي د پاچا له غوښتني سره سم ماشوم (خپل زوي ) د دربار ډګر ته حاضر او پاچا ته يې په داسي الفاظو ور معرفي کړ ؛ اعليحضرتا داده هغه ماشوم چې تاسويې غوښتنه در لوده - پستکی ، ګلالی او په قد او قامت برابر .

پاچا چې کله ماشوم ته ځير شو ، او ويليدل چې ځيرګي خپل زوي را پر مخه کړی او له هغه خصوصياتو چې د ده غوښتنه وه بې برخي دی ، نو يې ځيرګی دي ته اړکو ، ترڅو ولاړ سي او دماشوم په انتخاب کي له سره غور وکړي . ځيرګی چې ولاړ ، نو د دوهم ځل لپاره يې بيا خپل زوي را پر مخه کړاو دپاچا حضور تهيې راووست . دي لړۍ تر هغه دوام وکړ چې ځيرګي د دريم ځل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااپرلو مخکي په ځير و لولئ

لپاره بیاهم خپل زوي د پاچا دربارته ، خوله دي واره له یوه مخلصانه عرض سره حاضر کړ او هغه عرض داچې ، دی نشي کولاي د اعلیحضرت غوښتني ،کوم چې یو ماشوم باید له هغوي نه بر خور داره وي ، په نظر کي ونه نیسي او دا ستاسي علیجناب غوښتني دي چې ما دي ته اړباسي تر څو هر وار همداسي یو ماشوم ستاسي حضورته تقدیم کړم . اعلیحضرتا ما په ټولو ماشوامانو کي تر دي بل پستکی ، ګلالی او په قد او قامت برابر ماشوم پیدا نه کړ .

په دي کیسه کي خبره ټوله په ځیرګي کي ده . څکه داچې کنایه حامد کرزي ته ده ، اشرف غني ته ده او همدارنګه عبدالله او رباني ته ده .

* * *

اوس نو لپاره ددي چې کنایه مو پر ځاي ویلي وي نو لازمه ده چې زما هغه لیکني ته سر وربښکاره کړوچې د " دولتهاي شخصي " تر عنوان لاندي لیکل شوي او په مختلفو سایټو او همدارنګه په فیسبوك کي لا پخوا نشر ته سپارل شوي .

ما پر دي خپره شوي لیکنه کي کوښښ کړي ترڅو د موثقو اسنادو پر بنا د اسلامي نړۍ یو له اصلي خنډونو څخه ، چې د اسلامي نړۍ پرمختګ یې ډب کړی او هغه پر دي هیوادو کي د ملي دولتو نه شتون او پرځاي یې دشخصي ( خانداني ) دولتو را منځته کول دی برملا او په ګوته کړم . په اسلامي نړۍ کي یو له خورا کرغیړنو دودونو او رواجونه داده ، چې قدرت ته رسیدل دخداي "ورکړه " بولي او په مجردچې یو څوک ( مهمه نده له کومي لاري ) قدرت ته رسیږي نور نو دولت شخصي ملکیت ګڼي او دولتي څوکۍ د خپلو خپلوانو ، دوستانو او قبیلي په منځ کي ویشي چې بربنډ مثالونه یې د قذافي ،مبارک ، صدام ، بشارالاسد، زین العابدین بن علي ، آل سعود ، رباني ، کرزي او اشرف غني رژیمونه ول او دي ، چې ما لا پخوا د درو مستندو لیکنو په ترڅ کي تر دي عنوانو ( " دولت هاي شخصي " ، " مورد اتهاماتي را که بالاي رئیس جمهور کرزي وارد میدانند " ، شوراي نظار لشکري از اوباشان ... " ) لاندي نشر او خپرولو ته سپارلي .

دمثال په توګه ؛ کله چي حامد کرزي ، رباني ، اشرف غني ، عبدالله ، دوستم ، خلیلي ، محقق ، سرور دانش ، محمد خان ، فهیم ، سپنتا ، ستانکزی او داسي نور قدرت ته ورسیدل نو هر یوه یې تر ټولو مخکي هڅه وکړه ترڅو خپل اقارب او هم قبیله اشخاص په دولتي مقاموکي ( بیله دي چې تحصیل او اهلیت یې په نظر کي ونیسي ) ځاي پرځاي کړي . دلته یوشی دیادولو وړ ده هغه دا چې زموږ په هیواد کي بیله هغه هم ماسیوا له غازي امیر امان الله خانه ، بل چا پر داسي دولتي ویش چې د اقاربو پر منځ کي ویشل کیږي ، صرفه نده کړي ، خو هغه چا چې د شخصي دولت په را منځ ته کولو کي یې ټول نورمونه تر پښو لاندي کړل او د دولتي څوکیو پر ویش کي یې ( د اقاربو ، دوستانو ، نژدي قومیانو او همفکرانو پر بنا ) دتاریخ په اوږدوکي د بل هرچا په پرتله خورا ډیر افراط وکړ ( باد دسقاو له زویه ) هغه د نظار شورا او حامد کرزی ول .

د نظار شورا بر سیره پر دي چي داوطن یې څو واره خرڅ او زیر بناوي یې ور ورانې کړي ، قدرت ته له رسیدوسره سم یې دولت د خپل ځان شخصي ملکیت وګاڼه او دولتي څوکۍ یې صرف د خپلو سقوي ملګرو په منځ کي ( دمیم زور ما ، ټوله زما دفرمول پربنا ) داسي وه ویشلی چې حتا روڼ اندي تاجکان لا ورته ګوته پر غاښ شول .

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

داچې عبدالله دا دسقو دزوي خلف کوم هغه رذالت وه چې د باندنيو چارو په وزارت کې يې د سفارتو د ويش په هکله ترسره نه کړ دا لا بل ناورين دی چې دلته نه پر غږيږم . په دې هکله زما ډيره ګيله له کرزي او اشرف غني څخه ده چې دواړه پښتانه او دلوړو تحصيلاتو خاوندان دي او دواړه يې دخلکو په تيره بيا د روڼ اندو حمايت له ځان سره درلود او حاضر شول پردوي اعتماد وکړي تر څو شخصي دولتو ته دپاي ټکی کيږدي او پر ځاي يې داسی يو ملي دولت رامنځته کړي چې بالاخره زموږ ځوريدلي ملت وکړاي شي د هغه تر سيوري لاندي دسولي او امنيت په فضاکي خپل ژوند ته ادامه ورکړي .

حامد کرزي قدرت ته په رسيدو سره سم ، تر بل هرچا مخکي دخپلي کورنۍ ځلرويشت ( ٢٤ ) کسه پرمختلفودولتي څوکيو سپاره کړل او د دي لپاره چې ځان يې د جنګسالارانو او د نظار دشورا له انتقاده ( نه دبل چا له انتقاده ) بچ کړی وي ، نويې هغوي ټول د دولتي څوکيو په کوَټه ( خرمن ) راټول ترڅو هريو د دي ناولو جنګسالارانو څخه وکړاي شي له دي کوټي څخه دخپلي خوښي څوکۍ تر لاسه او بيايې پرځان او خپلي کورنۍ پسي قيد کړي .

البته داسي يې قيد کړي چې له احتمالي مرګ نه باد ، همدا څوکۍ دهغه ميراث خواره ته بيله کومه قيد او شرطه ، هغه هم دخاصو مراسمو په ترڅ کي دنظامي او ملکي رتبو په وربخشلو سره ترلاسه کړاي شي ، چی د رباني ، فهيم ، داود داود ، احمدشاه مسعود ..... او داسي نورو زامن او دفهيم ، مرحوم حاجي قدير او خليلي ورونه يې خورا ښه بيلګه ده .

داسي تر سترګو کيږي چه اوس دوهم متفکر هم د کرزي پر پله ، خپل پل ږدي او غواړي څه ناڅه د هغه لاره تعقيب کړي ترڅو وکولاي شي د خپل زعامت ؟ دوره وغزوي . اول خويې دا سهوه وکړه چې ګټلی قدرت يې د عبدالله په يوه پټکه او ګوتڅڼنه له هغه سره چې دنظار دشورا نماينده ده سم نيمايي کړ . دا پداسي صورت کي چې د انتخاباتو په جريان کي يې ملت ته وعده سپارلي وه ، چې سهامي شرکت به نه جوړي . دوهم داچې له خلکو سره يې وعده کړي وه چې کار به د هغه اهل ته سپاري او په دي برخه کي به معيار صداقت او لياقت ټاکي . دا وعده او قول يې هم پرځاي نه کو او تر ډيره حده يې له مصلحت او تعصب نه کار واخيست چې خورا شه مثال يې په فسبوک کي د احمدزيو ، ستانکزيو او لغمانيو بيروبارده چې څوک يې د ده ، څوک يې د ستانکزي چې اوس رئيس د امنيت ده او څوک يې دحنيف اتمر له خوانه دقرابت ، قبيلوي او سمتي تعصب پر بنا دلته او هلته پر مختلفو وظيفو ګمارل شوي .

په دي هکله غواړم چې ديوه سپينږيري کوچې د سترګو ليدلی حال چې له دي وضعي سره سرلګوي ګرانولوستونکوته د راوي له خولي نه ټکي په ټکي بيان کړم .

قصه ( کيسه ) داسي وه ؛څرنګه چې هموطنان معلومات لري ، زموږ کوچيان چې اکثره يې پښتانه دي ، کوچياني ژوند لري او له دي خاطره چې مالداره دي نو هميشه د معتدلو منطقو په لټ کي له يوه ځايه وبل ځاي ته کوچ کوي ترڅو د خپلو رمو لپاره څرځايونو ته لاس رسی پيداکړي . د دي کوچيانو يوه لويه برخه د ناور او چمن ترمنځ لاره وهي يعني ژمی دچمن او دوبی دناور خواته کوچ کوي . دالاره د غزني په ولايت کي د دوو ولسواليو يعني مقر او جاغورو له سرحدي سيمو څخه تيريږي يعنی له شماله دمقر او له جنوبه دجاغورو څخه . هزاره ګان چې کوچيان يې ازاريږ بولي په



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

دي سيمه کې له کوچيانو سره خورا نژدي د راکړي ورکړي اړيکي لري او د يوه اوبل په دودو ، رواجو او مذهبي عقيدو خبر دي . هزاره ګانو چه په ګوته کړي وه ، کوچيان پر زيارتو ډيره ټينګه عقيده لري نو را ولاړ سول د کوچيانو دلاري پرسر يې دخره پر هډوکو زيارت جوړ کړ ، چې ياندي ( ګواکي ) دلته کوم سيد او يا شهيد خښ دی . دوي دي زيارت ته دومره تبليغات وکړل چې ټوله منطقه يې پرسر واخسته او داسې اوازي يې خپري کړي چې ړانده ، بينا کوي او شلان پر منډو ترينه وزي ، خو شرط يې دا وه چې کلنګ يې بايد درشيرله داسې تورپسه وي چې له صحت نه بر خورداره او غوږ يې نه وي پري شوي .په واقعيت کې کيسه داسې وه چې دوي به له خپله منځه يو ړوند اوبل شل جوړ ( جعل ) کړ او بيابه يې په زيارت کې چيغې کړي چې دادی تر پرونه ړوند او يا شل وه خو دزيارت له برکته دادی ړوند بينا او شل په خپلو پښو روان شو .

اوس نو په دي هکله راوي چې دمقر په بازار کې دوکانداروه دا قصه له هغه ځايه را بيانوي چې دوکان ته يې يو کوچې له خپلې شلي لورسره د سودا داخستلو په مقصد سر ور ښکاروي . دی وايي چې له کوچې نه مې وپوښتل چې له کومه راځي او هغه هم له داسې يوې تور سرې سره چې خوارکۍ پر لاره سمه نشي تلاي ؟

کوچی په داسې حال کې چې ژړه غونی شو او په سترګو کې يې اوښکې را ښکاره شو ي د يوه اوږده اسويلي پر ايستلو سره يې راته وويل چې دا عاجزه مې لورکۍ ده او داده د درو کالو را پديخوا راته شله سوه او اوس نشي کولاي چې په خپلو پښو ولاړه شي او راځو له هغه زيارت نه چې خلکويې ډير تعريف کاوه چې شلان جوړوي .

دو کاندار ويل ، له هغه ځايه چې زما لينګو هم له ډيره وخته را پديخوا در دونه درلودل نومې کوچې ته وه وويل چې هوکې ، ماهم د دي زيارت ډير صفتونه اوريدلي او غواړم چې ورسم ، که څنګه کوچې ماما ؟ مصلحت راکوي ؟

کوچې دي نه وړي نه دي راوړي په زغرده يې راته وويل چې هوش کوه چې ورنسي ، ما چې وليدل لغړ ازاريږ جوړوي ، دپښتنو مورهم نه غ ی ې .

دي ليکني ته په کتو سره بايد ووايم چې زموږ په هيواد کې هم همدا د ځيرګي او زيارت کيسه روانه ده.هرڅوک چې قدرت ته ورسيد يايې د ځيرګي په شان خپل اقارب ترلاس نيولي او په دولتي څوکيويې کشينوي او يا دهزاره وو د زيارت په شان چې لغړ خپل خپلوان جوړوي او دنورو په قصه کې هم نده.

اوس نو چې زموږ په هيواد کې خبره همداسې ده او د ځيرګي او نوموړي زيارت کاني ترسره کيږي ، نوبايد له داسې چلند سره عکس العمل وښودل شي .

زما په اند غوره به داوي چې يو څوک په افغانستان ، اروپا او امريکا کې پيداشي او دا عکس العمل د احتجاج په توګه تنظيم او رهبري کړي .

اول ؛ په افغانستان کې . هغه څوک چې غواړي داسې يو احتجاج تنظيم کړي بايد د انترنيت له لاري ځان معرفي او ټولو هغوته چې ديپلومونه يې په لاس ، خو چارواکي يې په قصه کې نه دي او بيکاره ګرځي د احتجاج وسيله چې د ديپلومو د "کاپي ؟"سوځل دي ور په ګوته کړي . بيا دي نو دوي د ديپلومو له کاپي سره په يوه ټاکلي ورځ د امريکا د سفارت چې د همدي اجير دولت حامي دي مخي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ته را دعوت او داحتجاج په توګه دي دیپلوموته په داسي حالت کي اور ور واچوي چې ټول خبریالان له خپلو کامرو سره حاضر وي اوبیا دا احتجاجیه غونډه د امریکا سفارت ته د یوه اعتراضیه پریکړه لیک په استولو ختمه او د رسنیو له لاري یې له خپلو ټولو مستندو شواهدو سره نشر ته وسپاري .

دوهم ؛ په اروپا او امریکاکي . هلته هم کیداي شي چې په همدي صورت احتجاجیه غونډي د امریکا دسفارتو او په واشنګتن کي د سپیني ماڼی مخته د دیپلومو د کاپي ګانو په سوځولو سره رامنځ ته شي .په پام کي ولرئ چې ؛لمر هغه وښو ته خپل نور ( انرژي یاقوت ) ور بخشي ( ورکوي ) چې سریې له خاورو را ایستلي وي .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ